# د مېوند جنګ یوه تاریخي کتنه

ایل.کیو.اے. خان



,,مېوند،، لفظ ته د افغانستان او پښتنو ملي تاریخ کښې خصوصي اهمیت حاصل دے. دا یو کلتوري نامه هم ده. پښتانهٔ په خپلو بچو دا نوم په فخر ږدي. مېوند د قام ولي،ملت پالنې او مړانې علامت هم دے. خو مېوند څه خیالي څیز نۀ دے او نۀ غیر مادي تصور دے. دا یو حقیقت دے چې د زمکې په سر موجود دے او موجود به وي. مېوند د یو کلي نوم دے. دا کلے د جنوبي افغانستان د مشهور تاریخي ښار قندهار نه ۴۵ کلو میټره فاصله کښې پروت دے.

کله چې انګریز ړومبي افغان فرنګي جنګ کښې ماتې سره مخ شو نو انګریز توره ډال په مکمل ډول ونۀ غورځول او خپله لویه لوبه ئې جاري وساتله. انګریزانو په ۱۸۷۸ کښې یو ځل بیا په افغانستان حمله وکړه. کوشش ئې دا ؤ چې افغانستان هم لکه د هندوستان د خپل جغ لاندې راولي.

د انګریزانو او افغانانو ترمېنځه جنګ د

افغانستان په خاوره روان ؤ. ۲۷ جولائي وه کال ۱۸۸۰ؤ. قندهار کښې د اوړي غرمې وې. سخته ګرمې وه. انګريزي عسکر ګرمۍ اخستي وو. خو ورسره جديد وسله وه. نظم و نسق ؤ. آعلی فوځي تربيت ؤ. جنرل بوروز (General Burrows) غوندې تجربه کار جرنيل د انګريزي فوځونو قيادت کولو.

د ميوند په ميدان کښې د افغان فوځونو مشري سردار محمد ايوب خان کوله. افغان فوځونو نۀ خو وسله لرله کومه چې انګريز سره وه. نۀ ئې هغه تربيت حاصل کړے ؤ کوم چې انګريز فوځونو ته حاصل ؤ. د ميوند په مقام جنګ تود شو. افغان فوځونه ماتې سره نزدې وو ډير سرونه ئې زيان شول. دې جنګ کښې په پټ مخ يوې پيغلې هم د خپلو شاه ځلمو سره اوږه په اوږه روانه وه. افغان سرتيرو ته ئې اوبه ورکولې. د ژوبل شوو فوځيانو په زخمونو ئې پټۍ کېښودې. فوځيانو ته به ئې ګولۍ او بارود ور رسول. دا پيغله د ميوند سره خوا کښې د يو کلي د شپونکي لور وه. نوم ئې ملاله وه د مينې نه ورته خپلو خپلوانو ملالۍ وې. ملالۍ چې وليدل چې افغان سرتيرو پښتنو سربازانو حوصلې بائيلې د جنګ فيصله د زورګيرو انګريز په حق کښې رانزدې وه دې بهادرې پيغلې د مخ نه نقاب پورته کړو د يو ژوبل سرباز د لاسو نه غورځيدلے



ملي بيرغ ئې را اوچت کړو. لکه د زمرۍ ميدان ته راګډه شوه او چغه ئې کړه.

کۀ په ميوند کښې شهيد نۀ شوې
ګرانه لاليه بې ننګۍ له دې ساتينه

د ملالۍ دې مړانې دې جرات د ځوانانو وينې په غورځنګ کړې. ډاډ ئې وموندو غيرت ئې را ولړځيدو. فيصله وکړه چې پښتون ماتې ته نۀ دے پيدا. د خپلې خاورې ساتنه به کوي چې يوه پيغله ميدان ته راوتے شي نو ځوانان به ولې روستو کيږي. د جنګ نقشه بدله شوه. انګريز په روستو کيدو شو. حتی چې د زرګونو په تعداد کښې سرونه ئې بائيلل. ميدان فرنګي فوځونو د مړو نه ډک شو. ملالۍ هم د فرنګي د ګولۍ نه په امان نۀ شوه. راپرېوته او د شهادت جام ئې نصيب

شـو. اوږده تـنـده ئې ماته شوه. خپله خاوره ئې د فرنګي د ناپاکو قدمونو نه په امان وساتله. فرنګے پـه تېښتـه مـجبور شو دا خبر چې د لندن ایوانونو تـه ورسېـدو نـو هـلـتـه یـوه اوږده خاموشي خوره شوه. په خپل طاقت غاوره فرنګے حق حېران شو. پـوې شـو چې افغان او پښتون کله هم د چا غلامي نهٔ شـي زغـمـلـے. دا قـوم دا ملت آزاد پېدا دے او آزاد به اوسېږي.

مـلالې مېـوندوالې خپل سر بائیلو ولې د وطـن پـه میـنـه کښې ئې نوم وګټلو. نن هره مور خپـلې لـور باندې ملاله نوم ایښودو باندې فخر او ویـاړ کـوي. نـن هر پلار او هره مور په خپل ځوي مېـونـد نوم کېښودو سره د زړهٔ سکون او طمینان مومي.

مـرد مېـدان د مېـوند د مېدان د اتل جنرل سردار محمد ایوب خان د خپلې مړانې،پښتونولۍ او افغانیت هغه بې مشاله کردار ادا کړو چې تل به یـاد وي. د جـنـرل سـردار مـحـمـد ایوب خان نوم د پښتـنـو د مـلـي تاریخ هغه کردار دے چې پښتانهٔ پرې فخر او ویاړ کوي.

جـنرل ایوب خان د ملالې مړي ته سلامي ورکړه او د هـغې مړے ئې ډېـر په احترام خاورو ته وسپـارلـو. د جنرل سردار محمد ایوب خان مزار د پېښـور وزیـرباغ کښې نن هم د افغان ملت د ملي هستۍ،پت او مړانې عـلامـت دے. سردار محمد ایوب خان ډېر په شان او شوکت سره په ابدي خوب پـروت دے. پېښـور د سـردار محمد ایوب خان په مـزار فـخـر او ویـاړ کـوي. پېښـور د اتـلانـو، قهـارمـانـانـو،مـجاهدینو،ملي رهبرانو او غیـرتي جرنیلانو ښار دے.

,,مېـونـد،، د پښتـنـو او افـغانانو د ملي تاریخ یو ځلنده باب دے.

پـــه کـال ۱۹۵۹ء کښې د افـــغــانستـان حـکومت د مېوند په هغه مقام یو ملي یادګار جوړ کړو چـرته چې افغان سربازانو فرنګي استعمار ته بـرطـانیې تـه د سـلیدو لاره ښودلې وه. چرته چې هـغـه ملالۍ خپل سر و قام او وطن په مینه کښې شیندلے وُ. کومه ملالۍ چې نن د مکتب،هسپتال او کـالـج سـره یـادېږي. کـومـه ملالۍ چې د ملي غـورځـنګونو ژوندي کردارونه ښکاري. مېوند به تـل د آزادۍ او خپلواکۍ،قربانۍ او ایثار علامت وي. او مـلالــه بــه د جرات او مړانې د دستـانونو کـردار وي. (مبارک دې وي ټول افغان او پښتون ملت ته د مېوند ګټې ورځ)

☆☆☆